## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت

## آمریت اطلاعات و ارتباط عامه

# خبري بولټن

# News Bulletin

**۳۰ اسد_سال ۱۴۰۱**

خبرنامه


اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه

متن کامل---------------------------------------------------------------------------------------------------------٤

بیش از٦ هزار خانواده، در ١٣ ولایت کمک شد ---------------------------------------------------------------------٤

بیش از هزار مهاجرافغان ازایران به وطن برگشت نمود------------------------------------------------------------------٤

بیش از هزار خانواده در پروان مواد خوراکی دریافت نمودند--------------------------------------------------------------٤

ده ها خانواده در کندز کمک نقدی شد ----------------------------------------------------------------------------٥

ترکیه افغانستان ته ستنېدونکو کډوالو سره مرسته کوي------------------------------------------------------------------٦

یونان په یوه ورځ کې دغه هیواد ته د ١٥٠٠ کډوالو مخه نیولې--------------------------------------------------------٧

نجات بیش از یازده هزار مهاجر غیرقانونی در دریای اژه از سوی نیروهای گارد ساحلی ترکیه ---------------------------٨

مهاجر غیرقانونی در منطقه دیدیم آیدین نجات داده شدند -----------------------------------------------------------٩

د افغانستان په ٢١ ولایتونو کې د سختو بارانونو په اړه خبرداری----------------------------------------------------- ١٠

# متن کامل

## بیش از٦ هزار خانواده، در ۱۳ ولایت کمک شد

ویب سایت وزارت

**برای ۶ هزارو ۳۶ خانواده بیجاشده، از تاریخ ۲۲ الی ۲۷ اسد مساعدت شماری از موسسات، درهماهنگی با واحد های دومی وزارت امور مهاجرین، در۱۳ ولایت توزیع شد.**

**مساعدتهای یادشده که شامل مواد غذایی، پول نقد، بسته‌های فامیلی و بهداشتی بود، در ولایات قندهار ، نیمروز ، جوزجان ، سمنگان ، هرات ، کندز ، زابل ، بلخ ، بغلان ، کاپیسا ، هلمند، بادغیس و غور برای خانواده های مذکور توزیع شده است.**

## بیش از هزار مهاجرافغان ازایران به وطن برگشت نمود

ویب سایت وزارت

**به اساس گزارش آمریت امورمهاجرین نیمروزیک هزارو ۷۵۱ نفر مهاجر، به تاریخ های ۲۷ و ۲۸ اسد طور اجباری و داوطلبانه ازایران به وطن برگشت نموده اند.**

**از میان افراد مذکور یک هزارو ۱۷۷نفر طور جبری و ٥٧٤ تن دیگر بصورت داوطلب واردکشور عودت کرده اند.**

**به گفته منبع ۱٤۳ نفر آنها را غرض دریافت کمک، به دفترIOM معرفی نموده اند.**

## بیش از هزار خانواده در پروان مواد خوراکی دریافت نمودند

ویب سایت وزارت



**ریاست امورمهاجرین وعودت کننده گان ولایت پروان مساعدت خوراکی را برای یک هزارو ۵۳۰ خانواده بیجاشده ناشی از حوادث طبیعی وعودت کننده گان به تاریخ ۲۷ اسد توزیع نموده است.**

**خانواده های یاد شده که مسکونین مرکز پروان و ولسوالی های سیاه گرد ، سرخ پارسا ، وشیخ علی بودند، بعد از انجام سروی، یک بوجی آرد و ٦ کیلو خرما، کمک بنیاد خیریه IHH را ازطریق اداره امور مهاجرین آنولایت بدست آوردند.**

## ده ها خانواده در کندز کمک نقدی شد

ویب سایت وزارت



**ریاست امورمهاجرین وعودت کننده گان ولایت کندز ازمساعدت برای ۱۷۷ خانواده بیجاشده آسیب پذیر و بی بضاعت ، به تاریخ ۲۷ اسد خبر داد.**

**کمک یاد شده برای هرخانواده مبلغ ۲۳۲ ایرو از جانب دفتر CORDAID بودکه در هماهنگی با اداره امور مهاجرین آنولایت توزیع شد.**

## ترکیه افغانستان ته ستنېدونکو کډوالو سره مرسته کوي

آزادي راډیو




د ترکیي بیرغ

**ترکیه وایي، له هغو افغانانو سره به نقدي مرسته وکړي چې بېرته له ترکیې افغانستان ته ستنېږي.**

د ترکیې سرې میاشتې ویلي، له هر هغه افغان سره چې د اقتصادي ستونزو لپاره ترکیې ته تللی دی او اوس بېرته خپل هېواد ته ستنېږي، نقدي مرسته کوي، خو د ترکیې سرې میاشتې د دې مرستو اندازه نه ده اعلان کړې.

ترکیې په وروستیو کې یو شمېر افغانان بېرته افغانستان ته لېږلي دي او د شاوخوا درې نیم سوه افغانانو په ارتباط یې ویلي دي چې ډېر ژر به افغانستان ته ستانه کړي.

## یونان په یوه ورځ کې دغه هیواد ته د ۱۵۰۰ کډوالو مخه نیولې

دویچه وله پښتو

**د یونان امنیتي ځواکونو ویلي دي چې په یوه ورځ کې یې دغه هیواد ته د ۱۵۰۰ کډوالو د داخلیدو مخه نیولې ده. یونان وایي دا په یوه ورځ کې یو لوی شمیر دی او دغو کسانو غوښتل د ماریتسا سیند (ایوروس) له لارې یونان ته ننوځي.**

**د یونان د اتباعو د ساتنې وزیر تاکیس تیودوریکاکوس د شنبې په ورځ سکای نیوز ته وویل چې د پنجشنبې تر ورځې پورې شاوخوا ۱۵۰۰ مهاجرو یونان ته د رسیدو هڅه کړې ده. پر دې سربېره پولیسو په دې تړاو ۶۰ احتمالي قاچاقبران هم نیولي دي.**

**اتن په جدي ډول هڅه کوي چې له ترکیې څخه د ځمکې او سمندر له لارې یونان ته د کډوالو د راتګ مخه ونیسي. بشردوستانه سازمانونه دا عمل غیر قانوني بولي.**

**یوناني چارواکو ویلي دي چې یو زیات شمیر مهاجر چې له سمندري پولو څخه په تیریدو بریالي شوي د ترکیې د ساتونکو له خوا یونان ته رسیدلي دي.**

**د یونان حکومت غواړي د مهاجرو د زیاتیدو له کبله د دغه هیواد په شمال ختیځ کې له ترکیې سره پوله تقریباً په بشپړه توګه بنده کړي.**

## نجات بیش از یازده هزار مهاجر غیرقانونی در دریای اژه از سوی نیروهای گارد ساحلی ترکیه

مهاجرنیوز



**گزارشات رسیده حاکی از نجات یازده هزار و صد و یازده مهاجر بی‌رویه در دریای اژه در طول هفت ماه سال جاری است.**

**تلاش‌های نیروهای گارد ساحلی ترکیه برای ممانعت از مهاجرت‌های غیرقانونی و نجات مهاجرین سرگردان در دریا ادامه دارد.**

**نیروهای گارد ساحلی ترکیه آخرین امید مهاجران غیرقانونی هستند که از سوی عناصر یونانی در دریا دستگیر شده موتورقایق‌هایشان وجلیقه‌های نجاتشان از دستشان گرفته شده و به آب‌های سرزمینی ترکیه رانده می‌شوند.**

**بر اساس اطلاعات جمع‌آوری شده از سایت فرماندهی گارد ساحلی ترکیه، نیروهای گارد ساحلی ترکیه روزهای اول ژانویه الی سی و یک جولای سال ۲۰۲۲ ، در سواحل چاناک‌قلعه، بالیکسیر، ازمیر، آیدین و موغلا ۹ هزار و ۹۷۳ مهاجر بی‌رویه را که از سوی عناصر یونانی به آب‌های ترکیه رانده شده‌اند، از خطر غرق شدن نجات دادند.**

**در ماه جولای ۱۹۳۳ مهاجر غیرقانونی توسط نیروهای یونانی به آب‌های سرزمینی ترکیه رانده شدند.**

**از سوی دیگر ۱۱۳۸ مهاجر غیرقانونی که در دریا بر اثر نقص موتور و آب‌گرفتگی قایق‌هایشان با خطر مرگ مواجه شده و درخواست کمک کردند، توسط نیروهای گارد ساحلی ترکیه نجات یافتند.**

**در طول هفت ماه سال جاری جسد هفت مهاجر از سوی نیروهای گارد ساحلی ترکیه به‌دست آمد.**

## مهاجر غیرقانونی در منطقه دیدیم آیدین نجات داده شدند

مهاجرنیوز

**مهاجران غیرقانونی پس از طی مراحل اداری به ریاست مدیریت مهاجرت استان معرفی شدند**




**۵ مهاجر غیرقانونی که توسط عناصر یونانی به داخل آب‌های سرزمینی ترکیه عقب رانده شده بودند در منطقه دیدیم آیدین نجات داده شدند.**

**بر اساس اطلاعیه منتشره در سایت فرماندهی گارد ساحلی، پس از دریافت اطلاعاتی مبنی بر حضور گروهی از مهاجران غیرقانونی در قایق نجات در سواحل دیدیم، یک فروند کشتی گارد ساحلی به منطقه اعزام شد.**

**۵ مهاجر غیرقانونی در قایق نجات که توسط عناصر یونانی عقب رانده شده بودند، نجات یافتند.**

**مهاجران غیرقانونی پس از طی مراحل اداری به ریاست مدیریت مهاجرت استان معرفی شدند.**

## د افغانستان په ۲۱ ولایتونو کې د سختو بارانونو په اړه خبرداری

د امریکا غږ




**د افغانستان په یو شمېر ولایتونو کې د بارانونو او سېلابونو په دوام د طالبانو حکومت د اوبو او انرژۍ وزارت په را تلوونکو درېو ورځو کې د افغانستان په ۲۱ ولایتونو کې د سختو اورښتونو او سېلابونو را وتلو په اړه خبرداری ورکړی دی.**

**د اوبو او نرژۍ وزارت نن شنبه اگست ۲۱ (زمري ۲۹) په یوې اعلامیې کې ویلي چې د هوا پېژندنو کورنیو او بهرنیو ادارو د زمري میاشتې له ۲۹ څخه بیا د همدې میاشتې تر ۳۱ نېټې پورې د هیواد په ۲۱ ولایتونو کې د سختو بارانونو او سېلابونو راوتلو اټکل کړی دی.**

**د یاد وزارت د معلوماتو په اساس په دغه ولایتونو کې کونړ، لغمان، ننګرهار، پنجشیر، د پروان ولایت غوربند، پکتیا، خوست، پکتیکا، لوګر، میدان وردګ، غزنی، کوکچه، تالقان، بامیان، د بغلان ولایت اندرآب، سمنګان، بلخ، سرپل، جوزجان، ترینکوت، ارغنداب، نیمروز او فراه شامل دي.**

**په اعلامیه کې ویل شوي چې په دغه سیمو کې د سېلابونو را وتلو له امله د اوبو کچې لوړېدو احتمال شته. دوی د سیندونو څنډو ته نژدې خلکو څخه غوښتي چې په دغه ورځو کې د یادو سیمو څخه لیري شي.**

**بیان زیاتوي: "له ټولو هغو هېوادوالو څخه چې د نوموړو سیندونو پر غاړو کې هستوګن دي، په ډېر درنښت سره هیله کیږي، چې له یادې موضوع څخه ځانونه خبر کړي او د سیلاب د راتلو په ترڅ کې د سیند د غاړو اړوند او هغه خلک چې په لاندېنیو سیمو کې ژوند کوي خبر کړي تر څو د ځان او خپلو ماشومانو د ساتنې لپاره د سیندونو په غاړو کې له هر ډول تګ او راتګ څخه ډډه وکړي او د انساني او مالي زیانونو مخنیوی وشي".**

**له دې سره هم مهاله نن شنبه هم د افغانستان په یو شمېر سیمو کې تر سختو بارانونو وروسته د سېلابونو راوتلو راپورونه ورکړل شوي دي.**

په میدان وردګ ولایت کې د طالبانو سیمه ییزو مسؤلین وایي چې تېره شپه د دغه ولایت په چیک او سید اباد ولسوالیو کې د بارانونو او سېلابونو را وتلو له امله ۳۰ کورونه نړېدلي، ګڼ څاروي مړه شوي او کلیو ته تلوونکي ګڼې فرعي لارې او پل پلچکونه او کرنیزې ځمکې هم تخریب کړې دي.

دا په داسې حال کې ده چې طبیعي پېښو ته د رسېدو په چارو کې د طالبانو حکومت وزارت په تیرو دوو اونیو کې د افغانستان په یو شمېر ولایتونو کې د بارانونو او سېلابونو له کبله د ۱۰۴ کسانو د مړینې او ۱۱۵ نورو د ټپي کېدو خبر ورکړی و.

افغانستان چې وار له مخکې جګړو او وچکالۍ سخت ځپلی خلک یې د اوسنیو طبیعي پېښو له امله هم سخت ځپل شوي دي.

سېلاب ځپلې کورنۍ وایي چې د وروستیو بارانونو له امله یې کرنیزې ځمکې او کورونه له منځه تللي او په خبره یې بېړنیو مرستو ته اړتیا لري.

خبرنامه